# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د توضيح پانو د خپروني لړۍ



هيمش نيکسن



۱۳۸۶ د غويي مياشت


# دولت ته مرسته؟ په افغانستان کې نړيوالې مرستې او د دولت جوړونې توپيرونه (تناقض)

## محتوا


۱. حکومت کول او اوسنۍ کړکېچ

۲. د دولت جوړونې تناقض

۳. د ښه والي لپاره تغييرونه راوړل؟ د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتېژۍ او پرېکړه ليک د چوکاټ ارزونه

۴. هغه لارې چارې چې په مخ کې دي



هيمش نيکسن د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) کې حکومتي څېړونکی دی. دغه توضيح پاڼه د دغې ادارې د روانې څېړنې او د هېنريچ بويل د موسسې لخوا تمويل شوې يوې پاڼې پر بنسټ برابره شوې او په لاندې ځانګړتياوو تر لاسه کېداې شي: هيمش نيکسن، نړيوالې مرستې او حکومت په افغانستان کې، د هېنريچ بويل موسسه کابل/برلين ۲۰۰۷. د www.boell-afghanistan.org ته مخه وکړئ. د دغې څېړونې ليکوونکی د دغې څېړنيزه ادارې له همکارانو او ناپېژندل شوو نيوونکو څخه ددوی د ګټورو وړانديزونو لپاره د دغې پاڼې د لومړنۍ مسودې په برابرولو کې مننه کوي.


## لنډيز


دافغانستان د لنډمهالي اداري بهير چې په ۲۰۰۱ کال کې د بن د پرېکړو په بنسټ تعيين شوي وود يوې اوږدې مودې پراختيايي چوکاټ په لور چې د افغانستان په تړونليک او د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژی د پراختيايي په بهير کې په ډاګه شوی و، ګام ږدي. په دغه وخت کې افغانستان د ناکراريو له سختو ګواښونو، ترياک او په ملي کچه له ناخوښيو سره مخ دی. د دغو ګواښونو د مقابلې لپاره لنډمهالو ګامونو ته اړتيا ده. پداسې حال کې چې، د حل اوږدمهالې لارې د پراخو اصلاحاتو او د يوه ځواکمن دولت د جوړولو لپاره دي. په هر حال، د نړيوالو مرستو او دولت جوړونې تر منځ اړيکې پېچلې دي ځکه چې لنډمهاله ګامونه او همدا شان ډېرو بهرنيو مرستو باندې ډډه کول د دولت جوړونې د اوږدمهالو بهيرونو د پرمختګ د خنډ لامل کېداې شي. د مرستو او د اوږدمهالو ګامونو تر منځ اوسني اړيکې له يوې خوا او په مرستو ډډه کول او لنډمهال ګامونه له بلې خوا په "دولت جوړونه کې د تناقض" لامل کېږي.

په مرستو باندې ډډه، د لګښتونو دبرابروونکو په سرچينو باندې د دولت لږه څارنه او د بودجوي مرستو دواړه ډولونه کورني او بهرني، د اوږدمهالې دولت جوړونې د برخو ښودونکي دي. حکومتي پروګرامونه چې د دولت د وړتيا د ښه والي او ځواکمن کېدو په لټه کې دي د امنيت، د عامه ادارې سمون او د سيمه ييز حکومت په برخو کې يې زيانمنې پايلې را منځته کړي دي او د په زړه پورو پايلو د لاس ته راوړلو لپاره پاتې والی تر يوې اندازې د سياسي لنډمهالو پروګرامونو او د دولت جوړونې د اوږدمهالو بهيرونو تر منځ د اوسنيو توپيرونو څخه سرچينه اخلي.

د افغانستان د ملي پراختيا ستراتېژۍ د تړون ليک چوکاټ د امنيت، پراختيا او په افغانستان کې د حکومت لپاره د يوه پراخ بنسټيز او ستراتېژيک پروګرام د وړاندې په لور ګام اېښودل دي. دغه چوکاټ د افغانستان دولت اړ باسي چې د ډېرو توضيحاتو په وړاندې کولو سره خپل مالکيت له دغه پراختيايي بهير څخه زيات کړي. مرسته کوونکي کولای شي له بودجې او دولتي سيستمونو څخه په ملاتړ او د مرستو د لا زيات همغږۍ او يووالي لپاره خپله ونډه په دغه بهير کې لا ښه کړي، که څه هم چې د اصلي بودجې د ملاتړ په لوري د تګلارې بشپړ تغيير نه شونی او نه هم د سپارښتنې وړ ده.

ټول سکتورونه په ځانګړې توګه بايد:

- خپلې ستراتېژۍ د دولت جوړونې له يوه عيني او اوږدمهال پروګرام سره په کوم کې چې ډېره پاملرنه مالي دوام او د لنډمهالو او اوږدمهالو ګامونو تر منځ ټکرونو ته کېږي تنظيم کړي.
- د کورنيو او بهرنيو بودجوي سرچينو د تناسب او انډوليزې په اړه د سرتاسري توګه په تامينولو او چوپړ باندې ټينګار وکړي.
- د تشخيص، منځته راوړو او د انساني ظرفيتونو د لېږد اړونده فعاليتونو ته ښه والی ورکړي
- ټولنيز ځواب ورکونې ته ښه والی وکړي.

د افغانستان د دولت ګامونه [اقدامات] بايد په لاندې موضوع ګانو کې شامل وي:

- په دغه بهير کې د يوه ملاتړ په حيث، بايد چې د پراختيا ورکونې د ستراتېژيو په کارولو سره د افغانستان د ملي پراختيا ستراتېژۍ (ANDS) ته په لومړيتوب ورکونې باندې ټينګار وکړي.
- د ملي حاکميت ستراتېژۍ او جزئيات يې بايد ورو ورو روښانه او پراختيا ورکړي.
- د اړيکو ستراتېژۍ بايد هم د دولت په دننه او هم د دولت او خلګو تر منځ پياوړې کړي.

د مرسته کوونکو سازمانونو ګامونه (اقدامات) بايد په دې لاندې موضوع ګانو کې شامل وي:

- د کورنۍ بودجې ملاتړ بايد زيات شي او د دولت د ظرفيت په لوړولو کې ونډه واخلي او د افغانستان د بيا جوړونې د وجهي صندوق (ARTF) متغيير رول ته پام وکړي.
- د دې په تشخيصولو چې د کومو مکانيزمونو همغږۍ او يووالی لا ډېر اغېزمن او ساده وي، د ښه ريپوټ ورکولو په وسيله د بهرنۍ بودجې د ملاتړ کچه لوړه کړي.
- د خپلو کړنلارو د ارزونې په وسيله او هم د څو اړخيزو شبکو کارول لکه د افغانستان د بيا جوړونې وجهي صندوق، چې د اوږدو کلونو د ژمنو د زياتوالي لارې چارې ومومي.

## ۱. حکومت کول او وسنی کړکيچ

د ۲۰۰۷ کال په لومړيو کې( په بن کې د افغانستان لپاره د انتقالي سياسي چوکاټ له مقرريدو څخه پنځه کاله وروسته) هېواد په يوې دوې لارې کې دی، په ۲۰۰۷ کال کې مورډ دولت په ضد د ناکراريو او تاوتريخوالي، د ترياکو د کرکېلې د زياتوالي او د پراخې کچې ناخوښيو څخه چې په واقعي او مشهود ډول د افغانانو د ژوندانه په ښه والي کې د دولت پاتې راتلل، له فساد او ناکاميو څخه راپورته شوې و، شاهدان و. دغه درې ګوابنونه چې له ناکراريو، ترياک او له ټوليزو ناخوښيو څخه راپورته شوي د پرمختګ د بهير د لړزولو او په افغانستان کې د ناامنی د کچې د زياتوالي لپاره دي.

پدې منځ کې د افغانستان د ملي پراختيا لنډمهاله ستراتېژۍ او د افغانستان تړونليک چې په ۲۰۰۶م کال د لندن په غونډه کې په لاره اچول شوي و، د يوې نوې ستراتېژۍ چوکاټ يې د افغانستان دولت او نړيوالې ټولنې ته د ګډو فعاليتونو لپاره وړاندې کړ. دغه چوکاټ د عدالت، بهيرونه او دموکراتيکو سازمانونو او همدا شان د ښوزلې د کچې د راټيټولو او د عادلانه او پراخې اقتصادي ودې د سمسورتيا له لارې د سولې او ثبات پياوړتيا لپاره وړېژندل شو.[۱]

[۱] د افغانستان اسلامي جمهوريت د ۲۰۰۶ کال جنوري، اجرايي لنډيز، د افغانستان د ملي پراختيا لنډمهاله ستراتېژي

خو له دې سره سره دغه ګام چې د یوه پراخ توسعوي چوکاټ لور ته تګ دی لا ډاډمنه نده او د هغه د بشپړېدو لپاره اوږده لاره په مخ کې ده.

د یوه تل پاتې، مشروع او اغېزمن دولت جوړول، هم یوه اوږدمهال لرلید ته د رسېدو لپاره چې د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتېژۍ او د افغانستان په تړونلیک کې وړاندې شوي او هم په اوسنۍ کړکېچ باندې د بریا د لاسه راوړلو لپاره اصلي لامل دی. سختې ناکرارۍ نه دا چې دولت یې د کورنۍ امنیت په تامینولو او د پولو په څارنه کې بې وسه کړئ بلکه د نه ښیا جوړونې او پراختیا سره هم اړیکې لري د تریاکو د تولید په کچه کې ناڅاپه وروستی زیاتوالی، د حکومتي د عملونو د څارنې او د عامه مالونو د تامینولو همغږي لکه د اعتبار وړ سرچینې او ډاډمنې او تلپاتې ملاتړ او د کرنیزو محصولاتو انډول دي[2]، بلکې سر بېره پر دې د حکومت ضعف، فساد او د شفافیت نه شتون د عامه چوپړ په وړاندې کولو کې پخپل وار د ټولیزې ناخوښۍ په منځته راوړلو کې ډېره اغېزه لري

د بېوزلي په کمولو کې حکومت د پراختیایي مرستو په اغېزمنتوب کې یو مهم لامل دی؛ له دې امله مهمه دا ده چې د ښیا جوړونې او پراختیا په اړوند فعالیتونه د حکومت د ټولیز ښه والي په چوکاټ کې ترتیب شي.[3] دولت جوړونه همدا شان د سمونې د بهیر او د دولتي موسسو څخه د ملاتړ په حیث پر هغو ګواښونو باندې چې د افغانستان په وړاندې پراته دي یو مهم لامل دی.

**حکومت:** د ټولیزو پرېکړو کولو سیستم ته ویل کېږي، چې په یو لړ عامه او نیمه عامه موضوع ګانو لکه امنیت، ښوونه او روزنه، اقتصاد او بنسټیز ارزښتونه لکه عدالت او تابعیت کې شاملېږي. په معمولي توګه دولت په ملي کچه د ټولیزو پرېکړو د نیولو او پلي کولو شرایط برابروي چې لړ تر لږه امنیت، څارنه او حکومتي کنټرول او د ټولیزو آرمانونو د بیانولو لارې چارې دي. په افغانستان کې د مرستو د پراختیا لپاره د حکومت سیستم شامل د دولت، نړیوال مرستندویان، د ښیا جوړونې ولایتي ټیمونه، نادولتي سوداګریزې موسسې، نادولتي سازمانونه NGOs او حتا نارسمي موسسې چې ټول د لږ شانته ځواک او د ګډو ښېلابېلو اړیکو درلودونکي دي، شاملېږي.

**دولت جوړونه:** د سمون، جوړولو او د دولتي ادارو د ملاتړ او د یاد شوو عمومي توکو د تولید د لا اغېزمنتوب د موخو لپاره هڅې دي. دولت جوړونه همدا شان د ځواک د زیاتوالي او د مرستو د پراختیا د کنټرول او تمرکز په برخه کې د دولت هڅې دي.

[2]کریستوفر وارد [Christopher Ward] او ویلیام بېرد [William Byr] ۲۰۰۴، د افغانستان د تریاکو اقتصاد ، نړیوال بانک واشنګټن دي سي: او دیوید منسفیلد David Mansfield او آدم پېن Adam Pain ۲۰۰۵ حقیقت یا شعار؟ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، کابل.

[3]د نړیوالې برخې پراختیا DFID ، ۲۰۰۱، بېوزلو ته د کار لپاره د دولت اړ ایستل DFID لندن نړیوال بانک، ۲۰۰۴ ،افغانستان، دولت جوړونه، دوامداره وده او رغونه، او د بېوزلي کمول، واشنګټن دي سي

# ۲. د دولت جوړونې توپيرونه (تناقض)

د دولت جوړونې بهير جګړه ځپلو سيمو ته د نړيوالو مرستو د نورو ډولونو په پام کې نيولو سره په ځانګړې توګه د بيا جوړونې په بلافاصله پيل کې توپير لري. پداسې حال کې چې د بيا جوړونې نور فعاليتونه د ځانګړو اړتياوو د حل لپاره د سرچينو په تخصيص کې شامليږي. د دولت جوړونې بهير د ټوليزو موخو په اړونده پرېکړو کې رانغښتي دي او د دې لپاره چې اغېزمن او ګټور وي بايد پخپله د ټولنې [چېرته چې د دولت جوړونې بهير پکې تر سره کېږي] په لاس يې لارښوونه وشي. د اضطراري مرستو له پيل څخه د دوامداري پراختيا په لوري تګ، په يوه ضعيفه دولت کې د فعاليت کولو نه د يوه ځواکمن دولت سره يا دننه په دولت کې د کارکولو په مانا ده.

په مرستو باندې بې حده ډېره کول د دولت جوړونې بهېر لړزولئ شي. په افغانستان کې د داسې ګواښونو په وړاندې لکه ناکراري، ترياک او ټوليزه ناخوښی، چې موخه يې د افغانستان په ټولنه کې د ټوليز مالکيت د جوړولو مخنيوی دی سخت او لنډمهال غبرګون ته اړتيا، په غالبه توګه د اوږدمهالي دولت جوړونې د پرمختګ خنډ ګرځي. د مرستو او اوږدمهالو ګامونو تر منځ اړيکې له يوې خوا او په مرستو ډېره کول او لنډمهال ګامونه له بلې خوا په دولت جوړونه کې د يوه توپير [تناقض] د جوړېدو لامل کېږي.

پدې برخه کې، په افغانستان کې د دولت جوړونې او نړيوالو مرستو تر منځ اړيکې له دريو خواوو تر بحث لاندې نيول کېږي.

- د دولت جوړونې په اړوند د مرستو د اندازې اغېزې.
- د دولت جوړونې په اړوند د مرستو د وړاندې کولو اغېزې او
- د دولت جوړونې د پروګرامونو په جوړولو کې د مرستو اغېزمنتوب.

## ۱. د مرستو اندازې او دولت جوړونه

د ‌افغانستان د پراختيا لپاره د وړاندې شوو مرستو په کچه کې د يوه قطعي رقم تعيينول نا شونی دی. د مرسته کوونکو په لومړۍ غونډه کې چې د طالبانو له رانسکورېدو څخه وروسته په ۲۰۰۲م کال په توکيو کې جوړه شوه، د بېړنيو او لومړنيو اړتياوو د تامين د زېرمو پر خلاف چې له ۱۴ میلیاردو[4] څخه د زياتو امريکايي ډالرو وړاندينه شوې وه، د ۵،۲ ميليارډه امريکايي ډالرو ژمنې، افغانستان ته د پنځه کلن غير پوځي مرستو په لړ کې وشوې د برلين غونډه چې د ۲۰۰۴ په اپريل کې جوړه شوه د [امريکايي] ۲۷،۵ ملیارډو ډالرو د اووه کلنې طرحې پر خلاف چې [د افغانستان د راتلونکې تامين] تر نامه لاندې د مرستو د راټولولو په اړوند په يوه مهم دولتي سند کې بيان شوی و، پايله يې د ۸،۲ ميليارډو امريکايي ډالرو ژمنه شوه. په پايله کې هغه ژمنې چې شوې دي له مخکې سنجول شوو اړتياوې يې بشپړنشوای کړای. په هر حال، دغه ژمنې، هغه پيسې [يا مرستې] چې په حقيقت کې لاس ته راغلي يا لګېدلي دي نه منعکسوي.[5]

د ۱۳۸۱ او ۱۳۸۳ [۲۰۰۵-۲۰۰۲] کلونو تر منځ يواځې ۳،۳ ميليارډه ډالره په مرستندويه پروژو باندې ولګېدو او د هغه وخت په اوږدو کې د پروژو تر يو ميليارډ ډالرو څخه لږه کچه بشپړه شوه. دغې وضعې په ۱۳۸۴ [۲۰۰۵] کې ښه والی وموند. کله چې افغانستان تر ۲،۲ ميليارډو ډالرو زياتې پيسې تر لاسه کړې.[6] د لندن په غونډه کې چې د ۲۰۰۶ م کال په جنوري کې جوړه شوه، مرسته کوونکو ژمنه وکړه چې ۱۰،۴ ميليارډه امريکايي ډالره هغه پنځه کلن پروګرام ته چې د افغانستان د ملي پراختيا د لنډمهالي ستراتېژۍ او د افغانستان په تړون ليک کې بيان شوي و، ورکړي. داسې ښکاري چې د مرستو کچه لوړه شي او ښايي چې د کلنيو مرستو کچه په هر

[4] د تمويل کوونکو د مرستې معلوماتي زيرمه [Database]، په روبيت بارنيټ کې شرح، همايون حامدزاده او ابي ستودارد ۲۰۰۵، وروسته له هغه: [چشم اندازهای ثبات بهبود يافته] د همند د نړيوالو اړيکو انستيتيوت د هاګ ښار ۲۰-۵ د ټولو رقمونو يوونه امريکايي ډالردي

[5] دغه خلا کيدای شی چې څرنګه چې لوی مرسته کوونکې لکه د امريکې متحده ايلات د څو کلونو پر ځاي کال په کال غوښتنې ورکوی. بر سيره پر دی، زمنی په دی مانا دی چې دغه مسايل نه بايد چې په سخته او متراکم دول ورسره چلند وشی

[6] د پراختيايي او اقتصادي همکارۍ سازمان، د پاريس د اعلاميې اړوند څارنيز فعاليتونه، د ۲۰۰۶ د اکتوبر ۲مه نيټه کې ليکل شوي. د ډېرو لږو مرستو اټکل شوی و پدې چې يو شمير مرسته کوونکو سروې ګانو ته له ځواب ورکولو او د معلوماتو له وړاندې کولو څخه پداسې حال کې چې که لګښتونه د کال په اوږدو کې وروسته زياتوالی وموميد ډېره وکړه. ځينو سرچينو د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ [۱۳۸۳] کلونو تر منځ د مرستو کچه يې ۳ امريکايي ډالرو ته نږدې اټکل کړئ و.

کال کې د ۳ میلیارډو امریکایي ډالرو کې تثبیت شي. دغه رقم په پراخه کچه د ۱۳۸۲-۱۳۸۵ [۲۰۰۸-۲۰۰۲] د بودجې له اړونده ارقامو او کورنیو عوایدو سره سمون خوري.

د دغو ارقامو په اړه بېلابېل تعبیرونه شته چې یو یې دادی چې، افغانستان ډېرې لږې مرستې تر لاسه کړي دي دغه مسئله د ژمنه شوو یا ورکړل شوو مرستو د سنجول شوو اړتیاوو یا لګښتي مرستو له پرتلې سره په نورو جګړه ځپلو هېوادونو کې اړه لري. د یوې مطالعې پر بنسټ چې څو څو ځله ورباندې ټینګار شوی دی، افغانستان د دوو لومړیو کلونو په ترڅ کې د هر وګړي په سر **۵۷** ډالره تر لاسه کړي دي پداسې حال کې چې دغه رقم په بوسنیا کې **۶۷۹** ډالره، ختیځ تېمور **۲۳۳** او په هایتي کې **۷۳** امریکایي ډالره و.[۷] له دې مخې د مرستو کچه د لویو ننګونو د شتون په حل کې ډېر لږ دي چې پخپل وار د سولې د تامین او د دولت په وړاندې د اوسني کړکېچ د مخنیوي لپاره، د دولت په پاتې والي کې اغېزمن دي. د [ډېرې لږې] د مسئلې خوښوونکي، د افغانستان د دولت ژمنو لپاره د مرستو شتون ته د ملګرو ملتونو د زریزې اوږدمهالو موخو د پراختیا په اړوندچې د هغوی پلې کول زیاتو مرستو ته اړتیا لري ګوته نیسي.

دغه مسئله د ډېرې زیاتې اندازې مرسته، د دولت جوړونې بهیر ته دزیان لامل بولي. هېواد ته له دباندې څخه د پیسو راتلل د بېرته حساب ورکولو په مانا ده. په کال ۱۳۸۳ [۲۰۰۵-۲۰۰۴] کې، نړیوالو مرستو د افغانستان د کورني ناخالص تولید له ۴۰٪ څخه زیاته برخه جوړوله، پداسې حال کې چې د دولت کورني عواید د نا خالص تولید یواځې ۵٪ برخه جوړوله- په نړیوالې کچې ډېر ټیټ تناسب[۸] دي. د کورنیو عوایدو له زیاتوالي سره سره په کال **۱۳۸۵** [۲۰۰۶-۲۰۰۷] کې، تولیز لګښت ته د مرستې د کچې په نسبت کې کوم تغییر نه رامنځته کېږي، په بله مانا هغه سرچینې چې د افغانستان دولت یې د نړیوالو مرسته رسوونکو له لارې لاس ته راوړي له هغو

سرچینو څخه **۹** برابره زیاتې دي کوم چې له خپل اقتصاد څخه یې لاس ته راوړي. مرستو باندې داسې سخته ډډه کول، ښایي چې د دولت حاکمیت زیانمن کړي او د خلکو په وړاندې د دولت د مشروعیت لړزول د دولت جوړونې پر بهیر منفي اغېز کوي.[۹]

د [ډېرو زیاتو] مرستو د مسئلې ځینې مینه وال ادعا کوي چې مرستو باندې ډېره ډډه کول همدا شان د نا دولتي څواکمنو عاملینو سره په معامله کې د دولت د وړتیا د ضعف لامل کېږي او دغه موضوع د دولت مشروعیت لا نور لړزوي ځکه چې مرستندویه راتلونکي بهیرونه قطعي ندي. د افغانستان د تریاک د اقتصاد په برخه کې، دغه ستونزه چې د عوایدو یوه سرچینه او دغو عاملینو ته ځای ناست [بدیل] څواک برابروي لا نوره سختوي.

په پای کې نړیوالې مرستې کولای شي د دولت جوړونې په بهیر باندې ناوړه او متناقضې اغېزې وکړي. له یوې خوا ښایي افغانستان ته د مرسته شوې لګښتي بودجې نسبتا لږه اندازه د خلګو د اړتیاوو ځواب ونشي ویلای چې د دولت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. له بلې خوا، د افغانستان دولت او د هغه نړیوال دوستان د دولت جوړونې په بهیر باندې په مرستو سخت ډډه کولو ناوړه اغېزې او ځواب ورکولو ته یې پام وکړي.

## ۲. د مرستو وېش او دولت جوړونه

د دولت جوړونې تناقض د مرستو د وېش او سازمان ورکولو د تګلارې پر بنسټ هم جوړېدای شي. د مرستو د وېش ځینې تګلارې، د وړ او مشروع دولت د بنسټیزې پراختیا بهیر باندې اغېزه کوي.

د غوښتنو پر بنسټ مرستو ته استقامت ورکړل شوی دی د مرستو کچه او د هغوی د کارولو لاربنود په پراخ ډول له افغانستان څخه بهر تعیین شوي دي چې د هېواد وړتیا د لومړیتوبونو په جوته کولو کې محدودوي. مرسته کوونکي د مرستو وړاندې کولو ته چمتو کېږي خو د مرستې د لګولو لپاره د مرستې د ترلاسه کوونکي انګېزه د هغه د تامین د کچې په قیاس لږ وي. داسې شرایط کولای شي د دولت هڅې د عامه سازمانونو د سمون په لار کې ګډوډ کړي او د نامشروع څواکمنو په له منځه وړلو کې د دولت مخه نیسي.[۱۰] په

[۷] جمز دابینز James Dobbins سیت جي جونز Seth G Jones، کیت کران Keith Crane، اندریو راتمل Andrew Rathmell ، برت ستیل Brett Steele ، ریچارد تلیسچک Richard Telschik او آنګا تیمیل سینا Anga Timilsina **۲۰۰۵** په دولت جوړونه کې د ملګرو ملتونو رول: له کانګو نه عراق ته، د Rand همکاري: سنتا مونیکا Santa Monika، سي، آی، دې مسئلې ته باید په غور سره وکتل شي، پدې چې د سرچینو او له جګړې نه وروسته د دولت جوړونې د بریالیتوب تر منځ هېڅ ډول ارتباطي لیکه نشته.

[۸] -. نړیوال بانک، **۲۰۰۵**، افغانستان: په پراختیایي عامه شتو باندې څار، نړیوال بانک واشنګتن دي سي viii

[۹] استري سورکې Astri Suhrke ، ۲۰۰۲، کله چې ډېر هم لږ وي: په افغانستان کې دولت جوړونې ته مرسته Foundation Par alas relaciones internacionalies y el Dialogo Exterior مادرید ، د مالیې وزارت ارقام www.mof.gov.af اکتوبر.

[۱۰] الینور استروم Elinor Ostrum ، کلارک ګبسون Klark Gibson ، سوجای شیوا کمار Sujia Shivakumar او کریستر اندرسون Crister Andarson . ۲۰۰۱، مرسته، انګېزې او دوام، د پراختیایي همکارۍ د سازمان تحلیل SIDA ستاکهلم ، ۴: جوناتون ګودهند

## لومړی جدول د ۱۳۸۵ او ۸۲ لمریز کال اصلي او بهرنۍ بودجه

| | ۱۳۸۵ لمریز کار | | ۱۳۸۲ لمریز کال | |
|---|---|---|---|---|
| | د میلیون ډالرو په کچه | فیصدی | د میلیون ډالرو په کچه | فیصدی |
| اصلي بودجه | ۲۲۰۵ | ۶۰,۷۳ | ۲۵۵۰ | ۶۹,۸۸ |
| عادي بودجه | ۸۸۴ | ۲۴,۳۵ | ۱۰۷۲ | ۲۹,۳۸ |
| انکشافي بودجه | ۱۳۲۱ | ۳۶,۳۸ | ۱۴۷۸ | ۴۰,۵۰ |
| بهرنۍ بودجه | ۱۴۲۶ | ۳۹,۲۷ | ۱۰۹۹ | ۳۰,۱۲ |
| ډوله | ۳۶۳۱ | ۱۰۰ | ۳۶۴۹ | ۱۰۰ |
| کورنی عاید | ۵۴۲ | ۱۴,۹۳ | ۷۱۶ | ۱۹,۶۲ |
| له عاید څخه د ترلاسه شوی عادی بودجه فیصدی | | ۶۱,۳۱ | | ۶۶,۷۹ |

*منبع: د مالی وزارت د بوجی فرمان.*

افغانستان کې موږ له دې واقعیت سره مخ یو چې پداسې حال کې چې د بن د غونډې ډېری مهم معیارونه پلي شول، نور مهم تغییرونه لکه له دولت څخه د فاسدو لوړ پوړو چارواکیو ایستل یا د مهمو وزارتونو ریښتیني سمون ونشو.

په سرچینو باندې د دولت محدوده څارنه د مرستو ویش د افغانستان د دولت له کنټرول او څارنې څخه پرته شوي دي. په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان دولت د خپلې بودجې د ریپورټ ورکولو سیستم له نوي جوړ کړ. یو کورنی بودجوي سیستم د هغو بودجو لپاره چې د افغانستان د دولت د خزانو له لارې استقامت ورکول کېږي او د افغانستان د دولت له چوکاټ څخه بهر په پام کې نیول شوی دی وړاندې کېږي. کورني بودجه له [معمولي] او [پراختیایي] بودجې څخه جوړېږي. معمولي بودجه له تکراري هزینو څخه لکه معاش، کړنې او ساتنه [او څو نور استثنایي حالتونه] تر پوښښ لاندې راوړي، پداسې حال کې چې پراختیایي بودجه د نوو پانګه اچوونو لپاره ځانګړې کېږي. په کال ۱۳۸۳ [۲۰۰۵-۲۰۰۴] کې هغه بودجې چې د دولت په کنټرول کې نه دي کابو ۷۵٪ او یا ۲،۵ میلیارده د مرستو ټولیزه جوړوله. که څه هم له جګړې وروسته په لومړیوشرایطو کې د یو شمېر زیاتو نا منظمو بودجو شتون، یو معمول کار و خو دغه موضوع لکه څرنګه چې په هکله یې خبرې وشوې د دولت جوړونې پر بهیر ناوړه اغېزې کوي.[11]

پورتني جدول ته په کتنې سره ۱۳۸۵ [۲۰۰۷-۲۰۰۶] او ۱۳۸۲ [-۲۰۰۷ ۲۰۰۸] کلونه، په ملي بودجو کې زیاتوالی، د کورنیو بودجو ژمنې معادل دي په ۲،۲ ملیارډه امریکایي ډالرو او ۲،۵ ملیارډه امریکایي ډالره د کلونو په ترتیب ښیي. په کال ۱۳۸۵ [۲۰۰۷-۲۰۰۶] کې بهرنۍ بودجه له ۱،۴ ملیارډه امریکایي ډالرو څخه ۱،۱ ملیارډ امریکایي ډالرو ته راټیټه شوه. په همدې ترتیب، د هغه څه پر بنسټ چې ورقې او اسنادونه یې ښیي، د افغانستان د حکومت د خزانې له لارې د لاس ته راغلو مرستو ټولیز تناسب، یادښت شوو بودجو ته کابو ۷۰٪ زیاتېږي له دې سره سره، د کورنۍ بودجې د نا بشپړه مصرف لپاره او د بهرنۍ بودجې په برخه کې د ستونزو شتون پورتني ارقام تر یوې اندازې تحریف کونکووکي دي. د مقطعي بودجو د پروګرامونو په اړوند، د مرسته کوونکو له خوا نابشپړ او بې وخته ریپورټ ورکول، د خارجي بودجو د ډېر لږ ریپورټ ورکونې لامل کېږي. همدا ستونزه د بهرنۍ بودجې د مرستندویه پیسو د مصرف په برخه کې مخته کېږي. په کال ۲۰۰۶ کې د څارنې او همغږۍ ګډ هیئت (JCMB) له رسمي غونډو سره سره، یوازې ۷ مرسته کوونکو موسسو چې د هغوی مرستو د ژمنه شوو پیسو ٪۲۳ جوړول، د خپلو

---

Jonathon Goodhand او مارک سدرا Mark Sedra ، ۲۰۰۶، پر سولې پرېکړه لیکونه؟ مرسته، حالات او په افغانستان کې بیا جوړونه، د هالند د نړیوالو اړیکو انستیتیوت: د هاګ ښار.

[11] د مالی وزارت د بودجی احکام، زیات کلونه، www.mof.gov,af

لومړی شکل: د اړونده وزارت لخوا د انکشافی بودجی بشپړونه (۱۳۸۴ کال)




لګښتونو ریپوړټ یې په ټاکلي وخت د افغانستان د مالیې وزارت ته وسپاره.[۳]

په کال ۱۳۸۶ [۲۰۰۸-۲۰۰۷] تمه کېږې چې کورني عواید ۷۱۲ ملیونو امریکایي ډالرو ته ورسېږي او دغه مبلغ د معمولي بودجې کابو ۶۷٪ جوړوي او ډېری دولتي معاشونو تر پوښښ لاندې نیولو ته پوره بربښي. [ځیني معاشونه بیا هم ښایي د بهرني او پراختیایي بودجو له لارې ورکړل شي].

د دغو رقمونو په پام کې نیولو سره موږ پرېکړه نشو کولای چې د مالي سرچینو پر تولو ډولونو باندې د حکومت او دولت ځارنه مخ په زیاتېدو ده یا د عمومي سرچینو په برخه کې د کورنیو عوایدو مرستې د ودې په حال کې دي خو هغه څه چې موږ کولای شو د لته نتیجه ترې واخلو هغه دا ده چې ډېری مرستې د دولت د خزانو له لارې لاس ته راځي او د افغانستان د دولت د اقتصاد مساعدت له کورني بودجې (Core Budget) سره د زیاتېدو په حال کې ده. دواړه د مثبتې ودې خوا ته درومي.

پدې وروستیو کې، درې ډوله اختلافونه په تکرار د زیاتو پیسو د جذب او ملاتړ په برخه کې، د کورنۍ بودجې له لارې وړاندې کېږي.

- د هغو بودجو تخصیصول چې د کورنۍ بودجې له سیستم څخه دباندې مصرفېږي ستونزمنه ده، پدې پوهېدل چې څومره پیسې او د کومو موخو لپاره مصرفېږي ستونزمنه ده. حتا کله چې بودجې او پروګرامونه [پلانونه] ریپوړټ کېږي، د لګښت څرنګوالی ښایي ریپوړټ نشي. د معلوماتو د نه شتون له امله، د پروګرامونو همغږي کول ښایي ډېره ستونزمنه وي.
- د کورنۍ بودجې د جوړښت څخه دباندې د پیسو مصرف، د بودجې سمون د دولت په ادارو کې د لومړیتوبونو اجندا ستونزمنه کوي.
- د کورنۍ بودجې له لارې د ډېرو پیسو جذبول د مالي تخصیصونو د مدیریت په برخه کې د دولت په وړتیا کې زیاتوالی راوړي.

د افغانستان د بیا جوړونې وجهي صندوق (ARTF) د بودجې له لارې، د مرستو د وېش او جذب لپاره یو له ډېرو مهمو مکانیزمونو

[۳] د افغانستان د مالیې وزارت لخوا د مرستو د اغېزمنتوب په هکله د پرمختګ ریپوړټ د ځارنې/ارزونې [ماټریکس] او د بهرنۍ بودجې لګښتونه، د افغانستان د مالیې وزارت، ۲۰۰۷ م کال، د ځارنې او همغږۍ ګډ هیئت JCMB کابل، افغانستان، د افغانستان د مالیې وزارت کار د منظم ریپوړټ ورکولو د جوړښت په برخه کې د بسپنه ورکوونکو ادارو په وسیله چې د [ځارنې او همغږۍ ګډ هیئت] له خوا غوښتل شوي دي، په بریالیتوب پر مخ ځي، خو ځیني بسپنه ورکوونکې ادارې خپلې اندېښنې د اضافي هڅو په اړوند چې د ریپوړټونو د منځپانګو لپاره وړاندیز شوي و بیانوي.

څخه دی. د افغانستان د بیا جوړونې وجهي صندوق په ګډه د نړیوال بانک، د اسلامي پراختیا بانک (IDB) د آسیایي پراختیا بانک (ADB) او د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) څخه اداره کېږي. په کال ۱۳۸۵ [۲۰۰۷-۲۰۰۶] کې د ۴۰۳ ملیونو امریکایي ډالرو په معادل مالي تخصیص [وجه] د کورنۍ بودجې د مساعدت له لارې کارول شوي و. د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د یوه دولتي ابزار تر نامه لاندې د بېرته راګرځېدونکو تخصیصونو د برابرولو لپاره جوړ شوی، چې په ورته وخت کې د داخلي بودجې اړوند ملاتړ [حمایتي] مکانیزم چې له نړیوالو امانتي معیارونو سره یې سمون لاره د مرسته کوونکو په لاس ورکړل شول. دغه صندوق د تخصیص کوونکو ته اختیار ورکوي چې د پراختیایي

## جزئي مطالعه: د یوې مرستندویه تراډې [تنګنا] پېژندنه:

د ملي پیوستون پروګرام (NSP)، یو پراختیایي ملي پروګرام دی، چې د سیمه ییزو ټولنو له خوا پر مخ بیول کېږي. دغه پروګرام د کلیو د بیا جوړونې او پراختیا وزارت له خوا پیل شوی دی چې بودجه یې د بېلا بېلو دوه اړخیزه او څو اړخیزه مرستندویانو له خوا او په ځانګړې توګه د (ARTF) له خوا تامینېږي.

د ملي پیوستون پروګرام د څو نا دولتي سازمانونو له خوا تمویلېږي چې دغه ارګانونه د سیمه ییزې پراختیا د شوراګانو د ټاکلو بهیر آسان او له شوراګانو سره مرسته کوي چې له ټولنیز-سیمه ییز پراختیایي پروژو سره پېژندګلوی تر لاسه کړي. دغه پروژې د دوامدارو بسمنو په وسیله او په دریو قسطونو کې تمویل شوي دي. په کال ۱۳۸۴ [۲۰۰۶-۲۰۰۵] کې د دوامدارو بسپنو د ورکولو په بهیر کې ستونزې رامنځته شوې. په هغه وخت کې هغه ځېړنه چې په ګډه د افغانستان د ځېړنې او ارزیابي اداری او د پراختیایي شورا ګانو له خوا د افغانستان په ۵ ولایتونو کې تر سره شوه، دغه مسئله یې چې دغو شورا ګانو ته د پیسو ورکول په ډېرې ولایتونو کې کابو شپږ میاشتې ځنډېدلي و، روښانه کړه. په ځانګړې توګه د نوموړې بسمنې دویمه برخه چې د ټولیزې بیعې [قیمت] ۴۰٪ یې جوړوله، له ډېره ځنډه وروسته ورکړل شوې و. پدې چې ټولنې سترګې په لاره وې چې د اړتیا وړ مالي تخصیصونه تر لاسه کړي، د ځینو پروژو کار چې په نسبي توګه روان و، د فعالیت کچه یې ولوېدله او د هغوی شک او ګمان د دغو سراسري پروګرامونو د بسمنې د ورکړې په نسبت زیات شو. د هغوی ځینې [سیمه ییز خلک] نا دولتي سازمانونه یې د پیسو په غلا تورن کړل، ځینې نور خوابدي شوي و او د خپل اعتماد یې د کلیو د پراختیا او بیا جوړونې او د ملي پیوستون په پروګرام باندې ځارګرو مرستندویانو په نسبت له لاسه ورکړي و. له هغه ځایه چې په نړیوالو مرستو باندې ډاډ ضعیف شوی و، نو د پراختیایي سازمانونو ناوړه کړنو ته ګوته نیول کېدله. همدا لامل و چې ځینې واړه حکومتی شریک سازمانونه اړ شول چې خپل ماموریتونه وځنډوي.

د دغو بیلا بیلو لاملونو ترکیب د مرستو د ورکړې په ځنډ کې اغېزمن و. د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق مرسته کوونکو د خپلو ژمنو په پلي کولو کې ناغېړې وکړله او دغو پروګرامونو ته د مرستو د وېش او د لېږد بهیرونه چې د مالیې وزارت له خوا پلي کېدل پخ روان و. د ملي پیوستون د پروګرام د روانو نقدي اړتیاوو په هکله معلومات، د مرسته کوونکو د نقدي سیماوو طرحې یې ستونزمنې کړې. تر ټولو مهمه دا چې که څه هم مرسته کوونکي کولای شي د ملي پیوستون په پروګرام کې د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق مرستو ته لومړیتوب تعیین کړي خو د بودجې د تامین له مقرراتو سره سم، لومړی باید د دولت بېرته راستنېدونکي تخصیصونه ورکړل شي. له دې امله، د ملي پیوستون پروګرام ته په پام کې نیول شوې پیسې په راستنېدونکو تخصیصونو کې د شتو خلاوو په ډکولو شول او نورو پروژو ته تخصیص شوې پیسې هم ونشوای کړای چې دغه هزینه جبران کړي. د بودجې د کموالي په دلیل، ځینو شورا ګانو ته د بسمنې د دویم قسط ورکړه وځنډېده چې دوی وکړای شي د ملي پیوستون پروګرام په نورو ټولنو کې هم پکار واچوي. دغه کار د زړونو د سړېښت او ناخوښیو لامل شو چې ټولنې، نا دولتي سازمانونه، دولت او مرسته کوونکي تر خپلې اغېزې لاندې راولي.

*سرچینه: د مالیې وزارت، د افغانستان د ځېړنې او ارزونې د اداری مرکې له پراختیایي شورا ګانو او د ۲۰۰۷ م کال په اوږدو کې نا دولتي سازمانونو سره مرسته.*

پروګرامونو لومړیتوبونه روښانه کړي، خو د دولتي بېرته راګرځېدونکو عوایدو تخصیصونه تر هغوی لوړ [مقدم] دي. په همدې توګه چې د زیات شوو مرستو خوا ته، له کورنۍ بودجې څخه حاصل شوی تغییر منځته راځي د دغه صندوق مصرفي انډول له معمولي بودجې څخه د پراختیایي بودجې په لور تغییر د استقامت کوي.

**ټیټ او نا منظم دولتي لګښتونه** په کال ۱۳۸۴ [۲۰۰۶-۲۰۰۵] کې د داخلي بودجې یوازې ۴۴٪ برخه لګېدلې وه، دا په داسې حال کې ده چې معمولي بودجه نسبتا په اغېزمنه توګه لګېدلې وه او ویلای شو چې د ړومبنیو کلونو په پرتله چې پکې د معاشونو د اجرا کولو بهیر پخ یا ناقص و، د پام وړ ښه والی پکې راغلئ دئ.[13] داسې نتیجه اخیستلای شو چې د کورنۍ بودجې د مصرف د کچې ټیټوالی د پراختیایي بودجې له ټیټ مصرف څخه راپورته کېږي. د بودجه شوو

[13] د پرمختګونو ارزونه: په افغانستان کې د سیمه ییز اداری په باب نوی راپور، آن ایوانز او یاسین عثماني، د افغانستان د ځېړنې او اروني اداره- نړیوال بانک – کابل ۱-۳

پیسو ریښتینې کچه د نوې پانګې اچونې لپاره په کال **۱۳۸۴** [**۲۰۰۶-۲۰۰۵**] کې یوازې ٪**۴۴** ده. انګېرل کېږي چې دغه رقم به په کال **۱۳۸۵** [**۲۰۰۷-۲۰۰۶**] کابو تر ٪**۶۰-۵۵** لوړ شي. څرنګه چې په لومړي شکل کې لیدلای شئ، په وزارتونو کې د پراختیایي بودجې مصرف په پراخه اندازه یو له بل څخه توپیر لري.

د بودجې د ټیټ مصرف ځیني لاملونه په ټولو سکتورونو کې لکه، ستونزې، د افغانستان په کړکېچن وضعیت کې د پراختیایي پروګرامونو په تطبیق او جوړولو کې اوسنې ستونزو ته ورته دي. پراختیایي بودجه له داسې ستونزو سره لکه، له اندازې څخه ډېر اټکل، سره مخ ده چې له لوړو خیالي [بلند پروازانه] موخو، بېلابېل مالي کلونه، د څو اړخیزه بسپنه ورکونکو ادارو په وسیله د دوه نوبتي ریپوټونو وړاندې کول او د پروسږ کال د نه لګښت شوو مالي تخصیصونو لېږد وروستي کال ته راپورته کېږي.[14] ځینې نور ځانګړې او پېچلې ستونزې شته چې د څو بېلابېلو لاملونو له ترکیب څخه راپورته کېږي. [د چوکاټ د منځ متن ولولئ] په وزارتونو کې د بېلا بېلو مصرفي کچو په پام کې نیولو سره، د بودجو د پلي کولو ځینې ستونزې د یوه خاص سکتور ځانګړنه ده. د پروګرام جوړولو او د لومړیتوبونو د ترتیب له پلوه د وزارتونو وړتیا، د مالیې د وزارت لخوا د غوښتنلیکونو د برابرولو سندونه، د تدارکاتو مدیریت او د پروژو څارنه او پلي کول یو له بل څخه ډېر توپیر لري.[15]...

له دې مخې، پداسې حال کې چې ډېر ګټور بحثونه د پراختیایي بودجو د لاس ته راوړلو لپاره د افغانستان د حکومت د کورنۍ بودجې له لارې کېږي خو، تر اوسه لا له دې واقعیت سره مخ یو چې ښایي شوه زیاته اندازه اهدا شوې مرستې نه وي لګېدلي. د ټولیزو ناخوښیو په پام کې نیولو سره د ښیا جوړونې او پراختیا د یوه عیني بهیر د نه شتون په اړوند، دغې موضوع باندې بحث ډېر اړین دی. د بودجې د اجرا کولو کې ځینې خنډونه همدا اوس یاد شوي او په نسبي ډول نومول شوي دي. د مثال په توګه، د بودجې د تخصیص موده له **۳** څخه **۹** میاشتو ته اوږده شوې ده او د پروژو د برابرولو لپاره وزارتونو ته ډېر وخت ورکړل شوی دی چې د بودجې د ترتیبولو لپاره ډېرې هڅې وشي.

دغه پرمختګونه او همدا شان د افغانستان د ملي پراختیا ستراتېژۍ (ANDS) د بهیر په چوکاټ کې د سکتوري ستراتېژۍ پراختیا د بودجې په پلي کولو کې، په ستونزو باندې د بریا مهم سیاستونه دي.

**د بهرنۍ بودجې ناچړ، بې اغېزې او مضرې مرستې** د کورنۍ بودجې په مصرف کې د جدي ستونزو شتون پدې مانا نده چې د بهرنۍ بودجې په مصرف کې منځته نه راځي. هغه پراختیایي لګښتونه چې د دولتي موسسو له لارې کېږي، د مسلکي او د شرایطو د لرونکو کارکوونکو په ساتنه او د اصلاحاتو په پلي کولو کې کې د دولت وړتیا ضعیفوي.[16] دغه لګښتونه که چېرې په هغو برخو کې چې ښایي د دولت د مسئولیت په ډګر کې ګډ او پلي شي کولای شي د لوړو (متورم) معاشونو د سازماني لوړو خیالونو [بلند پروازانه] پرګرامونو د جوړېدولامل شي. دغه کار اوږدمهال مالي دوام ګواښوي.

د بهرنۍ بودجې له لارې پراختیایي پروژې ښایي چې د پنځو قراردادي مرحلو درلودونکي وي. دغه راز پروژې د انګېزو په کمولو سره، لوړو ارګانونو ته د سهي معلوماتو د لېږد او مرسته کوونکو ته د ځواب ورکولو بهیر ضعیفوي. غالبا، همګټو ته د ځواب ورکونې نزولي بهیر، په ځانګړې توګه د بېخبنایي پروژو په پام کې نیولو سره چې په پراخه کچه د رسنیو له لارې خپرېږي یوه لویه مسئله شمېرل کېږي. د پروګرام برابرول ښایي چې د بهرنیو عاملینو په وسیله په چټکې تر سره شي خو غالبا او د ملګرو ملتونو د ځینو دفترونو له خوا داسې نه وي او که چېرې پروګرامونه په چټکي سره برابر شي د هغوی تخصیصونه ډېر زیات وي: د مثال په توګه، د (USAID) اجاره داران کولای شي ځینې سرچینې او د لوړ کیفیت لرونکي وسایل په چټکي سره راټول کړي. خو د هغوی تخصیصونه د نورو اجرائیوي سازمانونو په پرتله ډېر زیات وي.[17] له بلې خوا دغه قضیه، ځینې نړیوال نا دولتي سازمانونه لکه اکسفام یا پاملرنه د شبکې په توګه ښایي د خپل غړیتوب په وسیله د حقیقي مرستو د وړاندې کولو په بهیر کې، چې د پراختیا بهیر ته په مرستو کې د نادولتي سازمانونو له رول څخه د پرله پسې نیوکو په پام کې نیولو سره- ګډون یې کړئ وي.[18]

[14] د لیکونکي مرکې او د افغانستان د مالیې وزارت سندونه، د OECD مسوده، د اکتوبر ۶ مه نیټه **۲۰۰۶**م کال.

[15] د مالی وزارت اسناد، له مرستندویانو سره مرکې، د **۲۰۰۶** کال د اکتوبر میاشت.

[16] د ځواک د نه شتون ختمول- د دولت جوړونې تګلاره، بهرنۍ پراختیایي انستیتیوت، اشرف غني، کلیر لوک هارت او مایکل کارنهان کال **۲۰۰۵**م

[17] له یوه باصلاحیته وزیر سره د خبرو اترو پر مهال، داکټر اشرف غني اټکل کړئ و چې د USAID د قراردادیو له لارې د یوه امریکایي ډالر ورکړه معادل ده له **۵** امریکایي ډالرو سره چې د ARTF له لارې په هراړخیزه توګه ورکول کېږي. ثبات، دولت جوړونه او پراختیایي مرستې. د ملي امنیت په اړه د پرینستون پروژه، **۷-۶**، ډاکټر اشرف غني، مایکل کارناهان او کلیر کوک هارټ کال **۲۰۰۶**م

[18] - نیک پاوندز، **۲۰۰۶**، پیسې چېرته ځي؟ د افغانستان نادولتی سازمانونه ته د مرستو د بهیر په هکله یوه مطالعه د اکبر موسسه ، کابل، **۱۲**م مخ.

د ډېرو شننو په کولو سره دا جوته کېږي چې کوم ډول بهرنۍ بودجه د اغېزمنتوب ټيټه کچه لري او که چېرې د کورنۍ بودجې کارول تر ټولو زياته ننګونه رامنځته کوي، د دغو بودجو کوم ډول کارولای شو؟ په خواشينۍ سره، د هغو شرايطو د پراخوالي کچه چې د هغوی اجرا د بهرنۍ بودجې له لارې د ډېرو پيسو لګولو ته اړتيا لري د مرسته کوونکو هېوادونو په پلازمېنو کې وضع کېږي. تدارکات، د موخو پلي کول، ملي امنيت او چټوب د دغو شرايطو د اجرا لپاره اړين دي، نه دا چې د مرستو اغېزمنتوب او د دولت جوړونې بهير.

تر هغو پورې چې تغيير نه منونکي خنډونه چې د کورنۍ بودجې د ملاتړ په کار کې خنډونه منځته راوړي، پر خپل ځای پاتې شي. د دولت جوړونې پر بهير باندې د منفي اغېزو کچه چې د بهرنۍ بودجې له لګولو څخه راپورته کېږي، هم کېدای شي چې د پرمختللي ريپورټ ورکولو ، زياتې شوې څو کلنې ژمنې او د سکتوري ستراتيژو د پراختيا له لارې هم کمښت موندلای شي.

## ۳. د دولت جوړونې په بهير کې د وړاندې شوو مرستو شننه

له ۲۰۰۱ م کال څخه راپدېخوا، افغانستان د بېلابېلو پروژوي او مرستندويه فعاليتونو شاهد و چې د دولتي سازمانونو د سمون او د ظرفيت د لوړولو لپاره شوي و. په ټوليزه توګه، د دولت جوړونې دغه پروګرامونه، په ځانګړې توګه که چېرې د پراختيايي مرستو په کنترول کې د دولت مخ په زياتېدونکي تمرکز او ځواک په پام کې ونيسو، چندان وړ پايلې بې نلرلې. د وړ پايلو نشتوالی تر يوې اندازې د څلورو ځانګړتياوو له هڅو څخه راپورته کېږي چې تر اوسه د دولت جوړونې بهير ته شوي دي.

د امنيتي سکتور د ارکان پر سمون باندې له وخت څخه مخکې ډډه کول د بيا جوړونې اړوندو هڅو په پيل کې، بېلا بېلو مرستندويه هېوادونو ته دا مسئوليت ورسپارل شوی و چې بېلا بېل سکتورونه اصلاح کړي. د جرمني حکومت د پوليسو په برخه کې، د امريکې د متحدو ايالاتو حکومت د افغانستان د ملي پوځ د سمون او رفورم په برخه کې، د انګلستان هېواد د مخدره توکو اړوند د سکتورونو د سمون په برخه کې او د ايټاليې هېواد د افغانستان د قضايي او عدلي سيستم په برخه کې. دغه کړنلاره تر يوې اندازې د فرعي موضوع ګانو د شتون او د سکتورونو نږدېوالی په علت پڅ او او اوس دغه بهير تر زياتې کچې په ټپه ولاړ ده.[۱۹]

[۱۹] د بن د پرېکړه ليک څخه هاخوا: د افغانستان پر نړيوالې مهادې يوه کتنه، مارک ساندارا او پيټر ميدل بروک، کال ۲۰۰۵م

د عامه اداري په سمون کې پڅ پرمختګ. د عامه اداري د سمون په نشتوالي کې، د تخصيص د يوې خاصې ستراتيژۍ پر بنسټ، جذب شوې بودجه د افغانستان د حکومت له لارې نه ده ورکړل شوې يا په اغېزمنه توګه ويشل شوې نه ده. د تر سره شوو سمونونو سره سره د دولت مشروعيت نه دی زيات شوی او اوس هم لا د افغانستان دولت ته د يوه فاسد، ناکاره او د ډله ييزو سياليو د ملاتړ دولت په سترګه ورته کتل کېږي. هغه هڅې چې د وزارتونو او ادارو د بيا تنظيم لپاره شوې دي، تر ډېره حده [په پېرودل شوو ظرفيتونو] باندې ولاړ نه و په [جوړ شوو ظرفيتونو] باندې. د مرستو د ټوليزې کچې يو پر څلورمه برخه په کال ۱۳۸۵ [۲۰۰۶-۲۰۰۵] کې د نړيوالو مرستو په تخنيکي او مسلکي برخو باندې ولګېدې پداسې حال کې چې يوازې ۱۱٪ د همغه کال مرستې بېلا بېلو دولتي سکتورونو ته همغږي شول[۲۰] چې د دې کار پايله په ټولو سکتورونو کې له مرستو څخه ناوړه ګټې اخيستنې شوه.[۲۱]

سيمه ييز ناکافي لګښتونه. له معاش څخه پرته د معمولي بودجې ډېره لږه اندازه له کابل څخه دباندې پکارول شوې ده پدې مانا چې دولتي مامورينو ته د ولايتونو او ولسواليو په کچه په ډېرو برخو کې د خپلو کارونو د اجرا لپاره حتا د بخاريو او د خپلو موټرونو د سونډ موادو د تامين لپاره پوره بودجه نه ده ورکړل شوې.[۲۲] دغه کار د دې لامل شو چې د دولتي کارکوونکو او د کليوالي سيمو اوسېدونکي تر منځ د حکومت د مالي کچې ملاتړ کښته شي. سر بېره پر دې په کابل کې د ډېرو بودجو تمرکز ، د ولايتي پراختيايي پروګرامونو اړونده هڅې د ټاکل شوو شورا ګانو او ولايتي پراختيايي کوميټو له لارې پېچلې کېږي. د ولايتي موسسو او د بودجې د بهير تر منځ هېڅ ډول پياوړې اړيکه نشته، پدې چې د دولتي سکتورونو د لومړيتوب د ترتيب انعکاس د هېواد د مرکزونو د بودجې د ترتيب په بهير کې اړين ندي[۲۳]. په ولايتونو کې د

[۲۰] د پراختيا او اقتصادي همکاريو سازمان، د پاريس د اعلاميې په اړوند ځارګر فعاليتونه مصوبه يې د اکتوبر په شپږمه کال ۲۰۰۷م کې ليکل شوي دي.

[۲۱] مخ په وړاندې حرکت ؟ په افغانستان کې د عامه ادارو سمون، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. سارا ليسټر، د ۲۰۰۷ م کال سپټمبر

[۲۲] د شپږو ولايتونو له دولتي، ولايتي او سيمه ييزو کارکوونکو سره د ليکونکي مرکې. د ۲۰۰۵ کال د جولای مياشتې څخه د ۲۰۰۷ کال تر اکتوبر پورې، په کال ۱۳۸۳ کې يوازې ۳۰٪ معمولي لګښتونه [پرته له معاشونو څخه] د کابل لپاره په کې نيول شوي دي. افغانستان: د پراختيا لپاره د عامه مالي مديريت، لومړی فصل، د افغانستان د څېړنيز او ارزونې له خوا خپور شوی. له دې سره سره، پورتني وړاندې شوي ارقام ځينې لګښتونه چې د مرکز له لارې ولايتونو ته خپاره شوي ډېر واقعيت نه ښيي.

[۲۳] په افغانستان کې د ولايتي حکومتونو جوړښتونه، له ګډوډي تر ژوره فکره، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، کابل، سارا ليسټر، او هيمش نيکسن، کال ۲۰۰۷.

اجرا په حال کې آزمایښتي بودجوي پروژې له دې موضوع څخه خبر دي، خو ښایي لا هم پدې ونتوانېږي چې د ولایتي پروګرامونو د اجرا لپاره یوه رڼه تګلاره برابره کړي چې له هغې ستراتېژۍ سره چې د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتېژۍ د بهیر له لارې پراختیا مومي ورګډه شي. دا په داسې حال کې ده چې د بودجو په نه تمرکز کې حتیاط کول منطقي بریښي. ټاکل شوي ولایتي موسسې چې د سرچینو په اړوند زېرمې یا صلاحیت نلري دوی هېڅ ډول مسئولیت پرته له دې چې تمه وکړي په غاړه نه اخلي.

متناقضې لنډمهاله سیاسي پرورګرامونه او د دولت جوړونې اوږدمهال متناقض پروګرامونه. زموږ په هېواد کې تل د دولت جوړونې اوږدمهالو موخو او د سیاسي لنډمهالو اړتیاوو تر منځ د مخدره توکو، ترخګري او ناکراریو په وړاندې د مبارزې تر منځ یو بېلتون وي. ملیشو او دولت پلوه ولایتي حکمرانانو ته وخت نا وخت د پیسو ورکړه د ولایتونو او پلازمینې تر منځ د ځواب ورکولو انډول یې ضعیف کړئ دئ[۲۴] او بزګرانو ته د بدیل معیشت د جوړولو څخه مخکې د تریاکو د کرنیزو ځمکو اړولو د دولت په وړاندې د ناخوښیو کچه یې په ولایتونو او ولسوالیو کې زیاته کړې ده. همدا شان، سیمه ییزو امدادي ځواکونو ته د پیسو د ورکولو له لارې د اضطراري امنیتي اړتیاوو د مسئلې وړاندې کول کولای شي د یوه با دوامه دولتي امنیتي سکتور د جوړولو اوږدمهاله موخه په ناوړه توګه تر اغېزې لاندې راولي.

داسې اقدامات، دغه شان مفاهیموته شدت ورکوي چې وایي، حکومت عبارت دی له یوه حمایوي ماشین څخه چې خلګو ته د چولړ د وړاندې کولو او د فساد د پاکولو پر ځای لېوال دی چې نامشروع ځواکمنانو ته د دولت په جوړښت کې ځای ورکړي. یوه امنیتي ستراتېژۍ چې په اصل کې په لنډمهال ملاتړ او تاوانونو باندې ډډه کوي نه یوازې دا چې د دولت مشروعیت تر پوښتنې لاندې وړي بلکې د مشروع کورنیو سرچینو د نه تر اختیار لاندې لرلو په علت، په پای کې به د امنیتي اړتیاوو په حل کې پاتې راشي.[۲۵]

---

[۲۴] د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون له مقام سره د دغه څېرونې د لیکونکی مرکه (د ۲۰۰۶ کال د جون میاشت).

[۲۵] د څو کلونو په ترڅ کې له تریاکو څخه تر لاسه شوي عواید، له نړیوالو مرستو څخه دوه برابره زیات اټکل شوي دي او په کال ۲۰۰۶ م کې دغه رقم ۷ میلیارده ډالرو ته ورسید: روبین، حمیدزاده او استودارد، افغانستان، ۲۰۰۶ او له هغه وروسته، ۲۲؛ UNODC، ۲۰۰۶، په افغانستان تریاکو سروې: اجرایی لنډیز، UNODC/ د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت: کابل

# ۳. د ښه والي لپاره تغییرات؟ د افغانستان د ملي پراختیا ستراتېژۍ د ترون لیک د کارۍ چوکاټ ارزونه

*سازماني او د حکومت پراختیا ، د افغانستان د ملي پراختیا د لنډمهالې ستراتیژۍ د بنسټ ډبره.*

د پیسو نړیواله موسسه

د ۲۰۰۶ کال د جنوري د میاشتې د لندن په غونډه کې د افغانستان د ملي پراختیا د لنډمهالې ستراتېژۍ او د افغانستان د ترون لیک د پلي کولو پیل، اوږدمهال حکومت ته یې چې د ۲۰۰۱م په دسمبر کې د بن په ترون لیک کې مقرر شوئ و د پای ټکی کښېښود. د افغانستان د ملي پراختیا لنډمهاله ستراتېژۍ، د افغانستان د اوږدمهالې پراختیا لپاره په ټولیزه توګه یوه پنځه کلنه ستراتېژۍ ده او د افغانستان ترون لیک د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ د دغې ستراتېژۍ د پلي کولو او تمویلولو تر منځ یوه ژمنه ده. د لومړنیو هڅو په اړوند ځینې عناصر د یوې ټولیزې پراختیایي ستراتېژۍ د اجرا لپاره او همدا شان د ملي پراختیا پروګرام په دغه نوي پروګرام کې ځای کړای شوي دي.

که څه هم د ملي انکشاف نړیواله ستراتېژۍ او د افغانستان ترون لیک یو له بله سره نښتي دي خو په اصل کې سره توپیر لري. د ملي پراختیا لنډمهاله ستراتېژۍ د ۲۰۰۵کال په دویمه نیمایي کې [د ببوزلي د له منځه وړلو د لنډمهالې ستراتېژۍ سند] په نامه تصویب شو. دغه ستراتېژۍ یوه وسیله ده چې نړیوال بانک ببوزلو او ډېر پوروړي هېوادونو ته د مرستې د وړاندې کولو لپاره هغه ته اړتیا لري او د ۲۰۰۸ تر نیمایي پورې د افغانستان د پراختیایي ستراتېژۍ د پراختیایي بهیر له لارې د ببوزلي د له منځه وړلو یوې پوره ستراتېژۍ ته به واوړي. له بلې خوا، د افغانستان ترون لیک د مرسته کوونکو هېوادونو له نوښتونو څخه او د افغانستان د حکومت ژمنې د زریزې د پراختیا د موخو له بهیر څخه چې په ۲۰۰۲ کال کې د ملګرو ملتونو د زریزې په غونډه کې مقرره شوه سرچینه اخلي. د ترون لیک هر معیار د افغانستان د ملي پراختیا د لنډمهالې ستراتېژۍ د یوې ستراتېژیکې موخې په نامه منعکس کېږي.

اوس، دغه دوه سندونه په سیاست جوړونه کې د همغږۍ چوکاټ، سازماني او بودجوي همغږي جوړوي او د یوه شراکتي چوکاټ په نامه چې د بهرنیو مرستو د عملي کولو په پام کې نیولو سره د ببوزلي د له منځه وړلو او د اقتصادي ودې لپاره چې دولت له سازمانونو سره نښلوي پاتې کېږي.[۳۲] هغه پراخ اصول چې د هغوی پر بنسټ دغه چوکاټ عمل کوي دا دي: د دولت د ځواک او مالکیت زیاتونه، د مرسته کوونکو او د دولت د کړنلارو همغږي کول، د پراختیایي لاس ته راوړنو ښه والی او د ظرفیت جوړلو له لارې د چوپړ وړاندې کول، د پوهاوي ورکولو او د همغږي د کچې لوړول او ګډ ځواب ورکونه.

د افغانستان ترونلیک لنډمهال او اوږدمهال معیارونه تعیین کړي دي چې د افغانستان دولت او شریکان یې دغو معیارونو ته د افغانستان د ملي پراختیا په لنډمهالې ستراتېژۍ کې ځای کړای شوو موخو په مطابق لاس بری ولري. هغه معیارونه چې مرسته کوونکو ته تعیین شوي دي هغه دا دي: د هغو پیسو د اندازې زیاتوالی چې د کورنۍ بودجې له لارې جذبېږي، زیاتې شوي څو کلنې ژمنې، د بهرنۍ بودجې د لګولو په برخه کې پرمختللي معلومات او دوامداره موسسو سره مرستې. د افغانستان د دولت ژمنې په دغو برخو کې شاملېږي: د کورني عایداتو زیاتېدل، له فساد سره د مبارزې په اړوند د اقداماتو رواجول او د سیاست جوړونې معیارونو ته لاس بری په ځانګړې برخه کې ځای کړای شوي او هم د افغانستان د ملي پراختیا په لنډمهاله ستراتېژۍ او بشپړه ستراتېژۍ کې د هغوی ځای ناستي.

د افغانستان د ملي پراختیا د لنډمهالې ستراتېژۍ پرمختګ د یوې بشپړې ملي پراختیایي ستراتېژۍ په لور د ۲۰۰۸ کال تر نیمایي پورې د مشورتي ډلو د یوه سیستم او د مرستندویه تخصصي کاري ډلو په وسیله پر مخ بیول کېږي. د افغانستان د ترون لیک پلي کول او د افغانستان د ملي پراختیا د بشپړې ستراتېژۍ اغېزمن پرمخ بیول د یوه ګډ څارنیز او همغږۍ هیئت له خوا پرمخ بیول کېږي. دغه هیئت یوه نړیواله موسسه ده چې د افغانستان د حکومت د بېلا بېلو ادارو له لوړپوړو کارکوونکو څخه جوړ شوی دی. که څه هم دغه کار د پلي کولو په لومړنیو پړاوونو کې دی د [ګډ همغږۍ او څارنیز هیئت] د دریم فصل ناسته چې د ۲۰۰۶ په نومبر کې جوړه شوې وه پدې ټکي پوه شول چې دغه پرمختګونه یوازې د دغه ترون لیک د لنډمهالو معیارونو په ۱۱مه برخه کې د قناعت وړ وو خو په دغې ناسته کې برابر شوي رپوټ د امنیتي

۳۲ د افغانستان اسلامي جمهوریت، [د ملي پراختیا لنډمهاله ستراتېژۍ] لومړی توک مخ ۱۷۹. د افغانستان پرېکړه لیک او د ملي پراختیا د لنډ مهالې ستراتېژۍ سند] د انترنت په وېب پاڼه کې www.ands.gov.af لوستونکو ته تر لاسه کېدای شي.

## دویم شکل: د ملي پراختیا د ستراتیژۍ جوړښت

| لومړي رکن<br>امنیت | دویم رکن<br>د دولت عامل، د قانون حاکمیت او د بشر حقوق | درېیم رکن<br>اقتصادی او ټولنیزه پراختیا | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی سکتور<br>امنیت | دویم سکتور<br>دحکومت، حاکمیت، قانون او د بشر د حقوقو سکتور | درېیم سکتور<br>زیربنا او د طبیعی سرچینو سکتور | څلورم سکتور<br>د ښوونې او روزنې سکتور | پنځم سکتور<br>د روغتیا سکتور | شپږم سکتور<br>د کرنې او د کلیو د پراختیا سکتور | اووم سکتور<br>ټولنیز ملاتړ | اتم سکتور<br>د حکومت اقتصاد او د خصوصی سکتور پراختیا |
| جنسیتی برابری (سیخه لومړی مساله) | | | | | | | |
| له نشه یې توکو پر ضد مبارزه (سیخه دویمه مساله) | | | | | | | |
| سیمه ییزه همکاری (دریمه سیخه مساله) | | | | | | | |
| د فساد پر ضد مبارزه (څلورمه سیخه مساله) | | | | | | | |
| د ژوندانه چاپېریال (پنځمه سیخه مساله) | | | | | | | |

مسئلو، دولت جوړونې او حکومت په برخو کې په پخ پرمختګ باندې یې ټینګار کړئ دئ.

ټرون لیک او د افغانستان د ملي پراختیا لنډمهاله ستراتېژۍ او همدا شان د افغانستان د ملي پراختیا بشپړې ستراتېژۍ ته پراختیایي بهیر د دریو رکنونو پر بنسټ جوړېږي: ۱). امنیت ۲). حکومت ۳). د بشر حقوق او د قانون حاکمیت، اقتصاد او ټولنیزه پراختیا. دغه درې رکنونه په ۸ سکتورونو ویشل کېږي او د دغو رکنونو پر منځ پنځه ګډې مسئلې پرتې دي. (دویم شکل ته وګورئ):

په اوس وخت کې د ملي پراختیا د ستراتیژۍ بهیر د وزارتي ستراتېژیو په پراختیا باندې بوخت دي چې باید د سکتوري ستراتېژیو او لنډمهالو ستراتېژیو سره ګډ شي او د ملي پراختیا د ستراتېژۍ له جوړښت سره سمون ولري. له دې سره سره په ورته وخت کې د ولایتونو په کچه یو لړ مشورې روانې دي چې پایله به یې د ولایتي پراختیایي ستراتېژۍ جوړول وي. یوه مهمه موضوع به دا وي چې دغه ولایتي ستراتېژۍ له سکتوري ستراتېژیو سره څرنګه یو ځای شي؟

### په نوي چوکاټ کې کوم نقصونه شته؟

د ملي پراختیا لنډ مهاله ستراتېژۍ او د افغانستان ټرون لیک د تیوري له نظره د دولت جوړونې د تناقض د اداري او څارنې لپاره چې پورته بحث پرې وشو ارزښتمند ګامونه شمېرل کېږي، خو داسې ښکاري چې په ځینو برخو کې دغه نوی چوکاټ به ونشي کړای د افغانستان د خلګو او د نړیوالې ټولنې تمه برابره کړي یا نورو توضېحاتو یا اقداماتو ته اړتیا ولري.

د دولت کنترول او مالکیت ډېر لږ دی. د مرستو لاس ته راوړنکي هېواد د کنترول یا مالکیت اصل چې د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتېژۍ په چوکاټ کې ځای کړای شوي دي داسې نه ښکاري چې په بشپړه توګه تثبیت یا وپېژاندل شي. مالکیت دې ته وایي چې د مرستو لاسه راوړونکی هېواد د کړنلارو په پلي کولو او جوړولو کې ګډون ولري. تر اوسه دغه ګډون یوازې د [پوهو مشورتي او مسلکي کاري ډلو] د ټاکلو په بهیر کې محدود دی. حتا په دغه بهیر کې نړیواله ټولنه هم بنسټیز رول لري. د ټولنو او د افغانستان د خلګو ګډون هم د ورکشاپونو له لارې او هغه ناستې چې د لږو پرېکړه نیولو صلاحیت لري محدود دی. ډېره زیاته مشوره ورکول او اخیستل ښایي د دولت پر مشروعیت ناوړه اغېزه وکړي. خلک یوازې دا نه غواړي چې له دوی څخه وپوښتل شي چې دوی څه غواړي بلکه دوی غواړي چې د دوی خبرې دولت واوري او په عملي توګه یې د پرېکړه کولو په بهیر کې ګډون ورکړي. منځنۍ ستراتېژي ګانې د یوې اړینې کړنلارې په توګه د خلګو په منځ کې د خلا د ډکولو په مقصد وکارول شي.

مرستې د غوښتنو پر بنسټ وړاندې کېږي. د افغانستان د ملی پراختیا د ستراتیژۍ ټرونلیک نشي کولای چې هغه ننګونې چې د مرستو تر لاسه کوونکی هېواد یې خپلو مرستو د رسېدو لپاره ورسره مخ ده بریا پرې تر لاسه کړي. څارګره او د همغږۍ جوړولو ګډ هیئت د

۲۰۰۶ د نومبر د میاشتې په ریپورټ کې تصدیق کړ چې د هغو معیارونو لپاره چې پلي شوي دي نوی مهال ویش [پروګرام] برابر کړي. پداسې حال کې چې دغه چوکاټ ښايي د مرسته کوونکو په منځ کې همغږي رامنځته کړي خو نشي کولای چې تضمين وکړي چې د افغانستان حکومت دې هرو مرو خپلې موخې تر لاسه کړي يا به په عملي توګه پرمختګ وشي. دغه ستونزې په خاصه توګه د وزارت خانو، له فساد سره مبارزه او مخدره توکو د قاچاق د سمون په برخه کې ښکاره شوي دي. د هغې نظريې له مخې چې د نړيوال بانک له خوا د [د بېوزلۍ د له منځه وړلو د ستراتېژۍ سند] په اړه تر سره شوې ښيي چې دغه پروګرام په هغو هېوادونو کې چې ضعيف سکتوري ظرفيتونه لري، يا هغه هېوادونه چې له مرسته کوونکو څخه چې مرستې تر لاسه کوي تر ټولو لږه اغېزه لري[۲۷]. په بله مانا، هر څومره چې دولت د خپلو ستراتيژيکو لومړيتوبونو د په ګوته کولو په برخه کې پياوړتيا ولري، هومره د همهغه هېواد د ملي پراختيا ستراتېژي د حکومت د مکلفيتونو سره په مرستو کې د اړيکو د جوړلو په برخه کې فعال رول لوبولی شي.

**ثار د ورکړل شوو معلوماتو پر بنسټ او د معلوماتو د درلوونکو په کچه تر سره کېږي** د ملي پراختيا د ستراتېژۍ چوکاټ او تړون ليک د مناسبو او عملي کړنلارو د پېژندنې په برخه کې د پرمختګونو د اندازه کولو لپاره له ړومبنيو هڅو څخه لږ وړاندې ځي، خو دغه اندازه اخيستنې اوس هم لا د خلګو د ژوندانه د ښه والي د درجې په ګوته کول د مرستو وېش او د ودې له شرايطو سره لکه [د کورنۍ بودجې د لګښت د لا همغږۍ يا د اداري واحدونو د شمېر په زياتوالي کې په منطقي کچه] تنظيمېږي. لکه څرنګه چې د بېوزلۍ د کمولو د انتقادي ستراتېژۍ سند ښيي د ستراتېژۍ په جوړولو کې د ترلاسه کوونکي هېواد له ګډون سره سره د هغوی ثار لا هم حکومت او نړيوالې ټولنې ته د يوه مسئوليت په توګه پاتې کېږي. لکه څرنګه چې وخت تېرېږي دوامداري اړتياوې د بهيرونو د ارزونې لپاره د بنسټيزو خبرو اترو له لارې او ګډ سياستونه شته نه په تکراري مشورو کې. مدني ټولنه کولای شي، په دې برخه کې يو مهم رول ادا کړي. د کړنلارې لرونکې مدني ټولنې د يوه ناپېيلي ناظر په توګه د موخو د تحقق او د پراختيا د محدوديتونو په لېږې کولو کې مرسته کوي. د ځواب ورکونې حس منځ ته راځي او له دولت سره همکارۍ، د خدمتونو د وړاندې کولو او ټولنيز ملاتړ ته پيل کوي.

**سيمه ييزه ستراتيژۍ زياتو ګروېګنو ته اړتيا لري.** نوی چوکاټ سمه ييزې کچې ته لا زيات پام اړوي، خو د واليانو او نورو اوږدمهال رول د دولت د اداري او مالي په جوړښت کې روښانه او رڼ نه وي. د يوې بشپړې او روښانه ستراتېژۍ په لور او پلي کولو ته يې يوه ټوليز لرليد ته اړ يو چې سازماني موخې او عيني پروګرامونه په کې راونغاړي. د افغانستان د دولت له حده زيات تمرکز د کابل په ښار کې ښايي د عامه ناخوښيو د منځته راوړلو لامل وي او ځينې نا متجانس فعاليتونه چې د دولت له خوا په ولايتونو کې تر سره کېږي ښايي وکولای شي د تمرکز د نشتوالي وړوکی شکل منځته راوړي. په پارلمان او ولايتي شورا ګانو کې نوې سياسي انګېزې د دغې اجندا د دوام لامل کېږي او ډېر کنترول ته اړتيا لري. د دغو ګامونو د اخيستلو موخه د عوايدو او د بودجې د تمرکز د له منځه وړلو څخه بايد نه وي. بلکې، د ځينو ناوړه کړنلارو د تمرکز د له منځه وړل وي. لکه په سيمه ييزو واحدونو کې د زياتو شوو غير معاشي تخصيصونه. که چېرې داسې وي چې سيمه ييزې نمايندګۍ د مشهودو اړيکو له لرلو څخه پرته يا نور دولتي بهيرونه جوړ شي، موسسې به د دولت مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي.

---

[۲۷] د بېوزلۍ د له منځه وړلو د ستراتېژۍ نوښت، په کال ۲۰۰۳ کې د نړيوال بانک د مرستو ناپېيله ارزونه د نړيوال بانک د ماموريت د ارزونې ديپارتمنت، ۲۰۰۴ ميلادي کال، نړيوال بانک

# ۵. په مخکې لارې

افغانستان په ۲۰۰۱ کې د ثبات د جوړولو، بیا جوړونې او د حکومت د ښه والي شرایط لرل. له هغه وخته تر اوسه د سرچینو ناوړه او په غالبه توګه نامنظمه کارونه د دولت او د هغه د شریکانو له کنترول څخه د باندې حالاتو کې، اوسنی کړکېچ یې د نومړو فرصتونو ځای ناستی کړ. د دریو مهمو ګواښونو د رامخته کېدو د مخنیوي لازم شرایط چې اوس اوس هېواد ورسره مخ ده، ناکراري د تریاک د اقتصاد کړکیچ او تولیزه ناخوښي.. په لنډمهال کې د مشهود پرمختګ جوړول دي، په ورته وخت کې یوازې د یوه ښه حکومت له لارې دغو مسئلو ته د حل لاره میندلای شو. د یوه ښه حکومت جوړول پخپله د دولت جوړونې د موخو پلې کولو ته اړتیا لري. چې د مقطعي حل لارو په وسیله و نه لړزول شي. ځینې وختونه، دولت جوړونې ته ډېرې زیاتې هڅې بنایي معکوسې پایلې ولري. نو پدې لاره کې اصلي هڅې د ځواکمنو او دوامداره دولتي موسسو د جوړولو په وخت کې د ناوړو پایلو د کچې کموالی دی.

## ټولو عاملینو ته سپارښتنې:

**۱. سیاسي ستراتېژۍ باید اوږدمهاله ریښتیني ستراتېژۍ سره سمون ولري.** د بیا جوړونې او د افغانستان د پراختیا په بهیر کې ټول ښکېل عاملونه بایدد مرستو په مدیریت او همغږۍ، یا د عامه مالونو په برابرولو کې د دولت مرکزي رول وپېژني. په افغانستان کې د دولت جوړونې یوه ربښتنی ستراتېژۍ نباید دولت د ټولو خدمتونو برابرونکي ونه ګڼي، بلکه د عامه مالونو د برابرولو لپاره باید د بهرنیو عاملینو او د مدني ټولنې نقش هم وپېژني. د داسې ستراتېژۍ تمرکز کول باید د نالملوسو پرمختیاوو له مخې وي چې نا دولتي یا نامشروع عاملین د هغوی په منځته راوړلو کې بې وسه دي. لکه امنیت، د قانون حاکمیت، عدالت، دودیز او دیني هویت ته درناوی او له حقوقو څخه ملاتړ.

- **د مالي دوام په هکله په آزاده توګه بحث وکړئ.** د سکتوري ستراتېژیو په اجرا او پراختیا کې د اوږدمهالو سرچینو شتون ته اهمیت ورکړشئ او له هغوی سره سم پروګرامونو ته لومړیتوب ورکړئ. د دې لپاره د دولت او نا دولتي د خدمتونو د تدارکات ګډون په هکله پربکړه کول اړین دي. په اوسني حال کې ښوونه او روزنه د بهرنۍ بودجې تر ټولو لوی سکتور دی. اوږدمهال مالي نظام ته پاملرنه او د مرسته کوونکو له لارې د بالقوه کورنۍ او بهرنۍ بودجې د ملاتړ په اړوند د ډېرو معلوماتو لاس ته راوړل دي. د ټاکنو د لوړ خیال [بلند پروازانه] پروګرام له مالي پلوه دوامداره نده او د دغه پروګرام لپاره دی د ټاکنو د خپلواکه کمیټې سپارښتنې په نظر کې ونیول شي. د افغانستان ژمنې هم د زریزې د موخو د پراختیا په اړوند ریښتینې ندي او په ړنه توګه باید پرې بحث وشي او حل شي.

- **د دولت جوړونې د لنډمهالو اقداماتو په هکله فکر وکړئ.** د مخدرو توکو پر ضد د مبارزې سیاست د مشروع موسسو د ملاتړ په منظور او له فساد څخه د حاصل شوي عاید کموالي وړاندې شي. د دولت جوړونې له نظره د کوکنارو له منځه وړل د بدیل معیشت څخه پرته زیان را منځته کوي ځکه چې د اداري فساد د پراختیا او د بیو د لوړوالي لامل کېږي او په ورته وخت کې له دولت څخه د بزګرانو د ملاتړ د کموالي لامل هم کېږي. همدارنګه، د مرستندویه ځواکونو په کاراچول د مشروع ځواکونو ګمارل، د لنډمهالو ناکراریو د ځپلو لپاره لنډمهاله ګټې باید مراعات شي. دولت د داسې اقداماتو په تر سره کولو لګه حکمرانانو ته د کله نا کله د پیسو ورکړې بندې کړي او په عوض کې د سیمه ییزې بودجې تامین د جوړو شوو شبکو له لارې زیات کړي. ځکه چې د دولت جوړونې په کار کې باید موسسو ته پام وشي نه اشخاصو ته.

**۲. د کورنیو او بهرنیو بودجو د یوه متناسب انډول او ورته سرچینو ته پام وکړئ.** په سر چینو باندې د زیات کنټرول مرحلې ته د دولت وتل د یوې اوږدمهاله دولت جوړونې لپاره یو اړین کار دی له دې مخې اړونده اقدامات باید د ښې شوې بودجې په پلې کولو سره انډوله او د چوپړ د وړاندې کولو په نیت په لاره واچول شي. په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان د حکومت له لارې د مالي سرچینو جذب او مصرف شونې ندی. په ورته وخت کې د مرستو زیاته برخه چې د حکومت له څار او کنټرول څخه لېرې دي د دولت جوړونې بهیر لړزوي.

- **هغو سرچینو ته چې د کورنۍ بودجې له لارې لګېږي لومړیتوب ورکړئ.** هغه مالي تخصیصونه چې د کورنۍ بودجې له لارې جذب او لګېږي باید د عایداتي لګښتونو لومړیتوبونو ته چې د پراختیایي ترتیب شوو لګښتونو په وسیله تعقیبېږي دوام ورکړئ. بېرته راګرځېدونکې لګښتونه

له ډېرو مهمو لګښتونو څخه دي چې د دولت لخوا باید اداره شي او ښايي په نسبي توګه د کورنيو د ودې په حال کې د عوايدو په وسيله رفع شي. د افغانستان د بيارغونې وجهي صندوق د پروګرام (ARTF) د اغېزمنتوب د ساتنې په منظور د معاشونو د اصلي تخصيصونو په تامين کې بايد د تغيير په حال کې خپل نقش د پروګرامونو د تخصيصونو د تامين په منظورزيات کړئ.

- **د دوامداره بهرنۍ بودجې لپاره پروګرامونه جوړ کړئ.** له هغه ځايه چې مرسته کوونکي د ملي رسمي ګوابښونو سره مخ دي، د بهرنيو بودجو د لاس ته راوړلو لپاره به دوامدارې هڅې وشي او د کورنۍ بودجې د بهرنيو مرستو اجرا کوونکي به پدې بهير کې ډېر رول ولوبوي. د فعاليتونو د تعيين، جوړولو او لېږد اړوند فعاليتونو ته ښه والی ورکړئ. د سرچينو د مديريت په برخه کې د حکومت ضعف ته ښه والی ورکړئ.

**۳. د تعيين، جوړولو او لېږد ظرفيتونو اړوند فعاليتونو ته ښه والی ورکړئ.** چې د سرچينو په برخه کې د دولت وړتيا ښه والی ومومي.

- **د حکومت د ستراتېژيک پروګرام جوړولو ظرفيت ته ښه والی ورکړئ.** د دولت په دوارو اجرايي او قانون جوړولو په دفترونو کې د رښتني ظرفيت جوړولو څخه ملاتړ وکړئ او د بې دوامه تخنيکي مرستو د کارولو کچه او د سياست جوړونې د مديريت د واحدونو جوړول لږ کړئ. په اوسني وخت کې د ظرفيت جوړونې د په کوته کولو ځينې نور ابعاد لکه د قوانينو مصوبه په واضېحه توګه په ګوته شوي دي.

- **د نا دولتي برخې د زيات شوي ظرفيت لېږد مراعات کړئ.** اوس اوس، نادولتي عاملينو رول باندې لکه، نا دولتي سازمانونه، د ظرفيت په جوړولو کې او د يوه عامه سرچينې په توګه د هغوی په رول اغماض کيږي. د مثال په توګه، د ملي پيوستون د پروګرام تامينوونکي، شريکان، د ټولنيزو سازمانونو په زرګونو تنه ځوانان يې له انګېزې او انډوليز جنسيت سره روزلي دي او دغه روزل شوي کسان په راتلونکې کې د دولتي کارکوونکو ډله شمېرل کېږي او دا په داسې حال کې ده چې ډېری وزارتونه د ډېر عمر کارکوونکي يې لري. د افغانستان د اداري سمون او ملکی خدمتونو خپلواک کميسيون بايد د اړونده پلانونو په اجرا کې د معاشونو د ورکړې په اصلاح او رتبه بندي کې له نادولتي برخې څخه د اوږدمهاله ظرفيت په پام کې ونيسي.

**۴. مسئوليت منل او ټولنيز ځواب ورکولو ته ښه والی ورکړئ.** د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتېژۍ پراختيايي بهير د عامو وګړو په ژوندانه کې د راوړل شوو اغېزو په پوهېدو سره د پرمختګ د ارزونې لارې چارې برابرې کړې.

- **د اغېزو ارزونې ته پراختيا ورکړئ.** د دولت پر اوسنيو پروګرامونو لکه د ګوابښونو او ملي زيان منني د ارزونې په پروګرام، کار وکړی، تر څو چې د نتايجو او د لاس ته راوړنو د سنجولو ابزار برابر کړئ.

- **له مدني ټولنو څخه ملاتړ وکړئ.** د مدني ټولنو موسسې په دولت کې د موجودو خلا ګانو په رفع کولو کې او د مرسته کوونکو تر څار لاندې جوړښتونه کولای شي د پراختيايي بهير پرمختګ ته مرسته وکړي. د مدني ټولنې محدود څارګر نوښتونه چې د هغوی تمرکز پر بودجو يا سکتورونو باندې مشخص دي، د جګو خيالونو د هڅو په قياس سره چې د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتېژۍ د ټوليز څار لپاره کېږي د زياتې سمونې د جوړېدو شونتيا غواړي.[۲۸]

- **د پارلمان او ولايتي شورا ګانو له څارګر رول څخه ملاتړ وکړئ.** د مرستندويه جريانونو په باره کې د استازي شوو ارګانونو جوړښتونو او موخو سهي معلومات حاصل کړئ چې وکولای شئ د هغوی سالم مشارکت د مرستو د اغېزمنتوب د کچې ارزونې رواج کړئ.

## د افغانستان دولت ته سپارښتنې:

**۱. د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتېژۍ په پراختيا کې په لومړيتوب ورکولو ټينګار وکړئ.** لومړيتوب ورکول بايد د پروګرامونو د اجرا د اصلي چارې په نامه د اړتياوو د سنجولو ځای ناستې شي. د سکتوري ستراتېژۍ ګانو پراختيا د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتېژۍ له لارې د رېښتنيو سرچينو او لومړيتوب ورکولو د پوښښ د ورکولو د په ګوته کولو لپاره يو مهم ګام شمېرل کېږي. هغه ځانګړې ګوابښ/تنګ چې په دې لاره کې پروت دی، له سيمه ييزې مشورتي بهير څخه د درامد اخيستل او د هغه په ځای کول په سکتوري او منځلارې ستراتېژۍ کې ده.

**۲. د سيمه ييز حکومت ستراتېژۍ ته پراختيا ورکړئ.** د افغانستان د ملي پراختيا لنډمهاله ستراتېژۍ د ولايتونو،

---

۲۸ [۲۸]- "د اقتصادي سواد او بودجې د تحليل ډله" د مدني ټولنې يو نوښتي مثال ده چې اوس د اجرا په حال کې ده: د ډېرو معلوماتو لپاره www.actionaid.org/main.aspxPageID=۲۲۳ ته مخه وکړئ.

ولسوالیو او ښاروالۍ د اوږدمهال رول لپاره کوم پروګرام نه وړاندې کوي. دغه کار کېدای شي د ټولیزو فعالیتونو له لارې د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتېژۍ د بشپړې پراختیا پر ترڅ کې وشي.

- **په لنډ مهال کې د حاضرو جوړښتونو سیمه ییزو لګښتونو ته ښه والی ورکړئ.** د معاشونو په اجرا کې سمونې د لا ښه سیمه ییز لېږد شونتیا ښیي. باید سیمه ییز تخصیصونه د کړنو او ساتنې لپاره زیات شي او په ولایتي کچه د لګښتي پرېکړو د نیولو واک ورکړل شي. له کو ځایه چې د کورنیو یا داخلي عواید د تنخواوو یوه زیاتیدونکې برخه تر پوښښ لاندې نیسي، نو د افغانستان د بیا جوړونې وجهي صندوق کولی شي چې خپل تمرکز په سیمه ییزه لګښتونو باندې واړوي، لکه روزنیزه برنامې، اوزار او د هغو ساتنه.

- **په منځ مهال کې، د سکتوري او جغرافیایي پروګرام جوړونې بهیرونه یو له بل سره ګډ کړئ.** د سیمه ییزو سلا مشورو او سکتوري ستراتېژیو تر منځ باید تلپاتې او شفاف پیوند جوړ شي.

- **په اوږد مهال کې، د نمایندګۍ، سرچینو او مسئولیتونو تر منځ اړیکې تر ارزونې لاندې ونیول شي.** د سیمه ییزې نمایندګۍ موسسې او د پروګرامونو پراختیا د ولایتونو، ولسوالیو، ښاروالیو او یا د کلیو په کچه باید په داسې چوکاټ کې وشي چې په هغه کې دغه ټکی مراعات شي چې د دغو موسسو او پروګرامونو د مشروعیت ورکولو لپاره کومې سرچینې او مسئولیتونه شته. دغه چوکاټ ښایي چې د مالي تمرکز د ویشنې د مسئلې په هکله په یوه خلاص بحث کې شامل وي. او د دې منظور لپاره باید اوسنی آزمایښتي پروګرامونه د ولایتي بودجو د ترتیبولو په اړوند په ځیر وارزول شي. همدا شان د ولایتي د بیا جوونې د ټیم اوږدمهاله رول له پامه ونه غورځول شي.

**۳. د حکومت ارتباطي ستراتېژۍ دې پیاوړې شي.** دولت باید د یوه همغږې کوونکې او تامینوونکې، او ټولنې وندې د فرعي ترتیبوونکې تر نامه لاندې، وپېژنې. همدا شان دولت باید رسنۍ او مدني ټولنې د مشروع شریک په نامه د ملي پراختیا په بهیر کې حمایت کړې او ملي ارزښتونه چې د لومړیتوبونو د بنسټ په نامه کارول کېږي بیان کړې. د اړیکو شتون نه یوازې د دولت او وګړو تر منځ بلکې په خپله دولتي بیلا بیلو سطحو کې اړین دي.

## مرسته کوونکو ته سپارښتنې

**۱. د کورنۍ بودجې د سیستم له لارې، زیاته بودجه لاس ته راوړئ او د زیاتو شوو سرچینو د کنټرول په منظور د ظرفیت د لوړولو له بهیر څخه ملاتړ وکړئ.** د مرستو د اندازې زیاتوالی چې کورنۍ بودجې ته تخصیصېږي د انفرادي بودجوي واحدونو د ظرفیت په جوړولو کې به مرسته وکړي او په پراختیایي بهیر کې د دولت مالکیت زیاتوي. د دولت جوړونې له نظره د بودجې په اجرا کې د لویو پرمختګونو جوړولو هر هغه څه چې د هر ډول مرستې د ترلاسه کولو لپاره د کورنۍ بودجې له لارې کېږي ناوړه پایلې منځ ته راوړي.

- **د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق (ARTF) ارزښت او نرمښت زیات کړئ.** لکه څرنګه چې د وخت په تېرېدو سره د دولت مالي جوړښت وده کوي د (ARTF) بودجه هم له معاشونو څخه د کړنو او تخصیصونو خوا ته د ظرفیت په لوړېدلو تغییر کوي. له کومه ځایه چې د (ARTF) کاري تمرکز تغییر کوي، مرسته کوونکي باید د (ARTF) د کچې اغېزمنتوب کنټرول او وارزوي او له هغه څخه د لازم تخصیص د تامین لپاره د پورونو د ورکړې لپاره چې له بهرنیو لګښتونو څخه پورته کېږي کار واخلي.

- **فني مرستې همغږې کړئ.** باید د داسې نوښتونو رواجولو او پراختیا ته لاس واچوئ چې د افغانستان د تړون لیک د خارني تر بهیر لاندې او وزارتونو ته د مرستې د ظرفیتونو د څنډونو د پېژندنې لپاره شوي وي. مرسته کوونکي باید د مشورتي بهیرونو د بودجې په تخصیصولو، د زدکړې د کارونو وېش، دولت ته د اجرا او اجازه ورکولو پر بهیرونو څار په تر سره کولو، د فني مرستو د اغېزمنتوب اړونده فعالیتونو څخه ملاتړ وکړي.

**۲. د بهرنۍ بودجې د ملاتړ ښه والی.** د ځینو عمومي خدمتونو وړاندې کول لکه د امنیت او اوسایني راوستل او د هغه لا زیات ښه والی، باید د دولتي او نا دولتي جوړښتونو له لارې تر سره شي. مرسته کوونکي هم باید د دغو فعالیتونو د دولت جوړونې اړتیاوې مراعات وکړي.

- **د بهرنۍ بودجې مکانیزمونه وارزوئ.** د بهرنیو بودجوي مرستو تر ټولو اغېزمن ډولونه په ګوته کړئ او سرچینې د هغوی خوا ته هدایت کړئ. د بهرنیو بودجوي مرستو د غیر

علني او بې اغېزو ملاتړ کچه چې لږه ځواب ورکوونکې ده ټيټه کړئ.

- **د بهرنيو بودجو راپور ورکولو بهيرته ښه والی ورکړئ:** د راپور ورکولو اړونده دندو د روڼ ويش په منظور له څو اړخيزو پراختيايي نمايندګيو يا نړيوالو مالي موسسو سره همکاري وکړئ چې له قلم څخه پاتې يا تکرار نشي. د راپور ورکونې له مطابقت ورکړل شوو فرصتونو څخه ملاتړ وکړئ او مرکزونه وهڅوئ چې دغه شرايط د راپور ورکولو او حساب داري په اوږدمهالو سيستمونو ځای کړي.

**۳. د څو کلنو ژمنو کچه لوړه کړئ.** مرسته کوونکي بايد د داسې فرصتونو په لټه کې وي، څو کلنې ژمنې چې د دوی تر ملاتړ لاندې موسسو د اوږدمهال سمون له لارې او هغو څو اړخيزو موسسو ته چې د داسې ژمنو د تر سره کولو وړتيا لري د لا زيات ملاتړ وړاندې کول منځته راوړي. پراخ امانتي بودجوي ملاتړ د څو کلنو ژمنو د جوړولو لپاره د يوه ابزار په نامه په لنډ مهال کې په پام کې ونيسي.

د افغانستان ستونزې په تېرو څو کلونو کې زياتې شوې دي او دا په لنډمهالو اقداماتو باندې د لا زيات تمرکز ښه لامل کېدای شي. له دې سره سره ويلای شو چې او سنی کړکېچ په اصل کې له حکومت او د دولتي موسسو د رول او وړتياوو په اړوند اوږدمهالې پوښتنې دي. د افغانستان خلک بايد په ځير دغو ستونزو ته پام وکړي او د حل بالقوه لارې په اغېزمنه توګه بيان کړي، او د افغانستان نړيوال شريکان ريښتېنې موخې په ګوته کړي او د هغوی په پلي کولو باندې پرېکړه وکړي. اوس د دې وخت دی چې په افغانستان کې د ژمنو او خبرو په پلي کولو په اغېزمنه توګه عمل وکړو نه دا چې په نا سنجولې توګه.

د افغانستان څېړنيز او د ارزونې اداره يوه خپلواکه څېړنيزه موسسه ده چې د پاليسي جوړونې بهير ته آسانتيا او د اجرائيوي فعاليتونو د کارولو لپاره د کارولو وړ مطالعې او څېړنې تر سره کوي. سربېره پر دې د افغانستان څېړنيزه او د ارزونې مرکز په ځغرده هوډ کړی دی چې له دې لارې د څېړنې فرهنګ ته وده، تحليلي ظرفيتونه رامنځته د معلوماتو د تحليل او شنني فرصتونه برابر او د خبرو او اترو فضا ته پراختيا ورکړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری تر ټولو اړينه موخه دا ده چې د خپلو فعاليتونو په بهير کې د افغانستان د خلکو د ژوند په بهير کې ښه والی راولي.

دغه مرکز د مرسته کوونکو ټولنو له خوا منځته راغلئ دئ او د مرسته کوونکو موسسو استازي، د ملګرو ملتونو سازمان، نادولتي موسسې او نورې بېلا بېلې موسسې د رئيسه هيئت په توګه پکې ګډون لري. همدا اوس، دغه موسسه د ملګرو ملتونو د مرستيال هيئت، د يوناما دفتر، د اروپا کميسيون، د ملګرو ملتون عالي کميشنری، نړيوال بانک، د کانادا ،دنمارک،ناروې، سويټزرلند، بريتانيا او سويدن د حکومتونو پوسيله تمويلېږي.

د ډېرو معلوماتو او د خپرنو د تر لاسه کولو لپاره له دې موسسې سره اړيکه ونيسئ:
د افغانستان څېړنې او د ارزونې اداره، د ګلفروشی کوڅه (د دوهمی کوڅې ګوښه ) نوی ښار، کابل
برېښنا پاڼه www.areu.org.af برېښنا پته areu@areu.org.af تليفون: ۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+